مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگروال

۲۰۲۳/۰۳/۱۱

# د مصر تاریخي سفرنامه

## ۱برخه

له اهرامونوترموزیمونو،

لمرله غرمي پښه اړولي وه،چي له کوره مخ په هوايي ډګروخوځېدم ... دزېږدي۲۰۲۳کال دمارچ لومړۍ نېټه وه ، چي دسفر جامي مي واغوستي ، دلندن یوه نامتوهوايي ډګرته چي هیټرو نو مېږي وخوځېدم ، له اوږده ځنډ وروسته الوتکي ته پورته شوم اوبیا مود مصر دلرغوني هیواد مخه خپله کړه ...

الوتکي په څټکوګامونو دځمکي اوهوا تنا بونه رالنډول او په لاره کي یودبل پسي ددېرو هیوادونو پاني واړولي .

له اروپا نه دافریقي وچي ته ورپوربوتم...د دوه وچو تر مینځ دغه اوږده لاره مودپنځو ساعتو په موده کي رالنډه کړه.

بیا دمصرله هوايي ډګره راووتم اودیوه ټکسي موټر پرمټ مي دمصر پلازمیني قاهري په زړه کي دسفیرپنوم یوه هوټل ته مخه کړه ... دلندن ګاډي دسړک کيڼ لاس ته دټرافیکي دودونو له مخي ځغلي ،خو دمصرګاډي بیا دسړک ښي لاسته چلیږي او ما دواړه غاړي له سترګو تېرولي .

موټر چي دنیل رود په تندي جوړ شوي پله ته ورسېد نو ومي لید چي غرونه غرونه نیل دقاهري دښکلي اولرغوني ښارله ښکلا ګانونه پلو اړوي او له ادمه تر دې دمه یي مصرته خپله زرغونتیا ښیلي ده،نوځکه خونیل رودته دمصرتحفه وايي

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh6.googleusercontent.com%2FOs50qlLFepNwuHV-QxQXYWUY-DYk0ng5_I3-CDBcapFfYvpyNM5iGwqj34QS1M_Wbl57AraQk3m7GayUhCxv5lWolHDrdiXYp1Vm7zbjzUf_dkKISMXnhtGl4y_-j0aKQIU0gDZcVDqZTAap-sxmFnQ&data=05%7C01%7C%7C724d7a59e52f4fcf766908db20e40408%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638139935938758683%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=txHXiH1KAKfeqGYArmOB9V8jjiDXi%2FE40oANLrJZRnc%3D&reserved=0>.

شپه مي په همغه هوټل کي تېره کړه ، په دې سبا چي دمارچ ۲ومه نېټه شي دسهار ۹بجي دیوې ټکسي په وسیله دمصرلرغونو اهرامونوته ورغلم، تاریخي دب دبي ته یي پښه نیولی اوتم شوم .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په ټوله کې مصرله شمال نه مدیترانې،له ختیځ نه دفلسطین په خاوره ،چې اوس داسراییلو په ولکه کې ده،سره سمندرګي، له لویدیځ نه په لیبیا او له سهل نه په سوډان پورې نښتی دی... دسینا ټاپووزمه سیمه هم په سره سمندرګي کې غوځېدلې ده ،ختیځ کې یوه ټاپواوسویز کانال ،چې دمصر په خاوره کې پروت دی دمدیترانې سره نښلي ، په غزه کې اوس فلسطیني کډوال اباددي،چې دمصر له خا ورې سره تاریخي خپلوي لري .

هغه څه چې دمصرلرغونې تاریخي دب دبه بې نړیواله کړې ده هغه دمادي اومعنوي ارزښتونو له مخې ،چې ډېر سیلانیان یې لیدلوته راځي هغه دمصراهرامونه اومصري فراعونیان دي،چې لړۍ یې شاو خوا ۲۶ ته رسېږي اوله مخزیږدي نه زرګونه کاله دمخه ټاکلې اونا ټاکلې زمانه په ګوته کوي.

فرعون دلوړاوهسک په مانا ، خوختیځپوهان یې دپاچایانوپه نامه یادوي اوداسې انګېرل کېږي،چې ددې هېواد لرغونې څواکمنتیا ، ابادۍ اورغاونې ترډېره بریده ددرېیم توتمس اوددویم رامسس پاچایانو اوفراعونیانوزمانې پورې اړه لري.

له دې وروسته مصر له تېرې لرغونې دب دبې را وغورځېد او په اوومې «۷»مخزیږدي پېړۍ کې د« سایيس » فرعونیانو لرغونی مصریوځل بیا په پښو ودروه .

زه لومړی دفراعون هغه ستر اهرام ته ورغلم،چې ۴۵۰۰کاله دمخه دوخت انجنرانوپه ځانګړي هنري مهارت اونوښت ودان کړی دی .

دمصر درې ګونې اهرامونه ډېر نامتو دي اود « جیزه » اهرامونو په نامه یادېږي او په ټوله کې لوېو او واړو اهرامونوشمېر له سلو نه اوړي .

دلومړي اهرام په ډېرلیک ،چې دجیزه له سترواهرامونوڅخه دی ،لیکل شوي ول چې دغه اهرام د«خوفویا خوفس » نامتوفرعون جوړ کړی دی ،چې ۱۳۹ متره لوړ والی لري اوشاو خوا دوه میلونه ۳۰۰زره ډبریني خښتې ،چې دهرې خښتې وزن یې څو ټنوته رسېږي ابادسوی دی

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh4.googleusercontent.com%2F_NS3zGOfIbbxsnID2eNAcxayJs6siX2Ydcj5JgSB-R4jNNuFMvfF_WJHANWFaAsbRKQHB-LzT6Gmdm1_RwUou-rmogKYiEW55tro_m4i384vW_lSrQAB2lPswmlJiV0B_LOM-DT20MXSve7OlVEDhDk&data=05%7C01%7C%7C724d7a59e52f4fcf766908db20e40408%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638139935938758683%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=NuxSp6XDg%2B4xpt7fanQ1cV2czhr5VIc91TTC4BNJJVY%3D&reserved=0>

دغه اهرام،چې په سقاره کې دی دهغه انجینرله خوا جوړ شو چې دفرعون په دربار کې دډېر درناوي ښتن واوان دهغه مهال «چښتن اورب النوع » یې باله .

دپام وړ خبره خو داده کله چې زه ورسېدم ددې ستر اهرام لمنې ته څېرمه دیوشمېر وزیرانو او انجنرانوله خوایوه غونډه رابلل شوې وه ،چې دجیزه اهرام مصري انجنرانواوساینس پوهانوپه ګډه په هغې کوټې غږېدل چې نوې موندل شوې وه ، چې اوږدوالې ۹متره ،سور اولوړ والی یې دوه دوه متره وو.

ما نه یوازې دغه درې اهرامونه ولیدل ،بلکې لوې اوواړه ټول مې له پامه تېر کړل ...دهمدې اهرامونو شاته ،فرعون دیوه تن یوه ستره مجسمه هم جوړه کړې وه ، تنه یې دزمري اوسر یې دانسان و،چې ګڼې دی به ددغو اهرامونو ساتنه اوپالنه کوي .

ددې مجسمې په څنک کې د لسګونو کوټوودانې کنډواله اووېجاړې پرتې وې اوداهغه کوټې وې چې هلته به دفرعونیانومومیایي چارې ترسره کېدې .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اوس دغه کوټې ځکه ړنګې پرتې دي چې ۲۳۰۰کاله دمخه په مصر کې داسې سخته زلزله وشوه چې نه يوازې دغه کوټې وغور ځولې بلکې داهرامونوګانګرېتونه يې هم وتوړل اوکا واکه يې کړل .

دېنځه ساعتونو په شاو خواکې مي دغه سيمه ټوله چاڼ کړه اوبيا دوه بجې يوې داسې فابرېکې ته لاړم ،چې هلته دکړکي په څېر يولرغونی بوټی و،چې زرګونه کاله دمخه ددغه بوټي له پوټکي کاغذ جوړېده اودا دومره لرغونی و،چې د«هېروغليف » ليکدود به پرې هم کښل کېده .

هېروګليف هغه انځوريزلومړنی ليکدود دی،چې له مخزيږدي نه زرګونه کاله دمخه دود واودهمدې بوټي په کاغذ،چې په انګريزي کې ورته پېپازاو په عربي کې ورته« بردي » وايي ليکل کېده .

څرنګه چې داسلام سپيڅلی دين دحضرت عمر(رض) دخلافت په مهال مصر ته ورسېد،نوددې کاغذيوه کار پوه ووېل،چې دحضرت عثمان (رض) په وخت، دقرانکريم په لومړنی ليکنه کې له همدې کاغذه استفاده شوې ده .

ما په برټش کتابتون کې دقرانکريم دوه قلمي نسخې ولېدې چې يوه نسخه دحضرت عثمان د خلافت په مهال ليکل سوې وه ، چې دکاغذ بڼه يې کټ مټ همداسې وه اودويمه نسخه دهارون الرشيددواک په وخت کې کښل سوې وه،چې کاغذ يې دلومړی لاسي نسخې په پرتله ۲۰سلنه توپير درلود !؟

کوم لاسوندونه چې ما په دغه فابريکه کې دهېروغليف ،انځوريزليکدود په تړاو تر لاسه کړل ،داسې انګېرل کېږي،چې بنايي اوه زره (۷۰۰۰) کاله دمخه دغه ليکدود شتون درلود ،چې د نړی دتمدن د پنځو حوزوله لومړيو پېړ سره تړاو لري

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh3.googleusercontent.com%2FR8W_Fb4qEuPw9YI5yOZ74_y_3rk0rrFVMy-DXV2W74MKJgUa4vYK3_NKSvUIXh8Z1t_haH86wwrDNVtRYOnFxstKmrZXVplRXzZboC_wNMA8dAQnHz8gLBK7tBfPaEbcYprNYQpZq7v8PPDRxgkZcJE&data=05%7C01%7C%7C724d7a59e52f4fcf766908db20e40408%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638139935938758683%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=48dZj2IYVlm7pvKj9AZ8%2Fp7NDqhpV4OECWxCK%2FEF0ZM%3D&reserved=0>

دمازديګرپېنځه بجې وې ، په داسې مهال چې ز بړي مازديګر خپلې وړانګې راټولولې اودفرعونيانودبرجونو تورې دبرېښې بښېښې ځلولې مخ په هوټل راغبرګ شوم .

په دې سبا دمارچ په درېيمه ،چې دجمعې مبارکه ورځ وه ومې غوښتل چې دمصرلرغونی موزيم،چې موميايي شوي فرعونيان لاهم پکې امانت پراته دي وګورم.

دسهار ۹بجې وې چې له هوټل نه مخ په موزيم روان شوم ... له چا مې پوښتنه وکړه چې له هوټل نه تر موزيم څونه مزل دی؟ هغه راته ووېل ،په پښواوپلې مزل ، شاوخوا يوساعت ...!

غوره مې وګڼله،چې هغه ځای ته په خپلوپښووخوځېږم، هو! همداسې مې وکړل اودنيل غاړه مې ونيوله اوپه مزه مزه ،چې لمرلا خپله تودوخه نه وه غوړولې روان شوم .

په زړه کې مې دنيل رود دلرغونوکېسوپانې اړولې، کله کله به دنيل لرغونې دب دبې ستر ګې راو برېښنولې اوشونډې به مې مرې مرې کېدې چې ددې سين مستې ته څومره نيمزالې اوتنکی پېغلې له سرې ډولی سره ورغاړه سوې دي اودخپلو سرونوقرباني يې دنيل له مستې تاوکړې ده ؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

زاړه روایتونه وايي، یومهال به چې دنیل رود په مستۍ راغی ،نو شاو خوا کورونه به يې له خپل خړستوني لکه د خونړي ښامار په څېر تېرول .

دوخت دودیزو انګېرنوددې خبروپخلی کاوو،چې ګنې ترهغې نیل نه کرارېږي اونه له مستۍ کېني ، ترڅو چې دخونړي زمري په څېر خپله ډالۍ اوتحفه ترلاسه نه کړي !؟

دده ډالۍ ، سره ډولۍ اوپه سرې ډولۍ کې ناوې شوې نیمزاله پېغله وه ،چې هرکال به دمستۍ په مهال یوه تنکۍ پېغله ناوې شوه ، سینګاره بی کړه ،په سره ډولۍ کې به يې کېنوله،سورسالولا کې به يې را ونغاړله اوبیا به يې دنیل هغه خړو څپوته وروغورځوله .

انګېرنوددې خبرې پخلی هم کړی دی ، چې کله به نیل رود خپله ډالۍ ترلاسه کړه نو بیا به يې وروروډخپلوخړوخونړېیو څپولمنه راټوله کړه اوله مرګونونېشو به را وغورځېد .

زه همدې انګېرنو په سراخستی وم اوپه چټکو ګامونو مې هم خپله لاره څارله او هم دنیل رود له ځوانۍ اومستۍ مې پاڼې اړولې ،چې رښتیا هم دیوساعت په شاو خواکې دهغه پله غاړې ته ورسېدم ، چې دمصر په تاریخ کې د« اکتوبر۶مه » نېټې په نوم نامتو دی اودا هغه نېټه ده ،چې په دې ورځ مصریانو له اسراییلوجګړه وګټله .

داکتوبر۶مې نېټې له پله ،چې پوربوتم سترګې مې دمصرد« دتحریرپه څلور لارې » ولګېدې،چې په دغې څلور لارې کې نه یوازې، دلته دمصردفتري چارې د«مجمع» په نوم سرته رسېږي،بلکې داهغه څلور لارې ده ،چې د« حسن مبارک » پر وړاندې د«عرب پسرلي» پاڅون پیل سواو دهغه دواک اوځواک ملایې ماته کړه او دی يې له دندې ګوښه کړ

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh5.googleusercontent.com%2FrJtgNgaVCD3Z8X46Fo-3TtU-FTkFIGwtX1_lUUqOieV330AJ9MFnbdkL3BUTEdqz_AkMjV0oFfA1rBofC8ilfni-1vBN7JVbg4pR00DQNUGzFSedfTLRb2oK7R0FRtvrG3p23XD7w97G3Rz58RbjSLM&data=05%7C01%7C%7C724d7a59e52f4fcf766908db20e40408%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638139935938758683%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=4c6vUROa6BePY%2Bi39T8MTxNAV%2FkAhd3%2BMAgTtJNNp9U%3D&reserved=0>

د « مجمع » ودانۍ ته  مخامخ دمصردموزیم دلرغوني تاریخ له غروره ډکه اوسپنیزه ماڼۍ چې هډوکي يې له ډبرینوخښتوجوړاوهم اوبدل شوي ولاړه ده ، چې په تندي يې دمصردبیرغ رنګینه شمله له ورایه ښکا ري .
دموزیم دلیدلو ټکټ مې واخست او په ډېرې بې صبرۍ دسیلا نیا نوپه اوږده کتار کې ودرېدم اوکتار په ډېروسترړوګا مونو پل اخسته،چې سړی ورته له ځغمه وته ،خوله نیم ساعته وروسته ځنډ دموزیم په وره ورننوتم .( نوربیا )

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh6.googleusercontent.com%2F8ErJrvIcL5e1Kin0RF0YuAukulOi4YDYfqVe_ob3naacJXv0Gkqb75FNFcQh5MLWKDJ-pT61DRRD3GZWkreAxH9S4oCaLHPm5urCiTEWq57BgBfDjkTT1WcXCvFYk6eoeYfPS6IUahaS8ilMfHCuQnI&data=05%7C01%7C%7C724d7a59e52f4fcf766908db20e40408%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638139935938758683%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ